د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده‌کړو وزارت

شیخ زاید پوهنتون

علمي څېړنو معاونیت

علمي مجلې آمریت

**د شیخ زاید پوهنتون علمي-څېړنیز ژورنال**

# د ټولنیزو علومو اړوند د ساحوي او کتابتوني علمي مقالو د لیکنې لارښود

**ترتیبوونکي: پوهنوال زرولي صدیقي، پوهنوال محمد شفیق مندوزی، پوهندوی حسام الدین رحیم زی"**

**کال: ۱۴۰۲ هـ. ل**

# شيخ زايد پوهنتون

## علمي څېړنو معاونيت

## د شيخ زايد پوهنتون علمي- څېړنيز ژورنال

## د ټولنيزو علومو اړوند

# دکتابتوني او ساحوي علمي مقالو د ليکنې لارښود

**ترتيب کوونکي: پوهنوال زرولي صديقي، پوهنوال محمد شفيق مندوزی، پوهندوی حسام الدين رحيم زی"**

په ټوله کې څېړنيزې مقالې د بڼې له مخې په کتابتوني او ساحوي وېشـل شـوې دي، چې دلته د دواړو ډولونو د ليکنې په موخه لارښود يا رهنمود وړاندې کېږي.

### ۱- د کتابتوني مقالې ليکنې لارښود

کتابتوني څېړنه له هغه څېړنې څخه عبارت ده، چې د کتابتون او ارشـــيف له موادو او سرچينو پربنســـټ تر سره کېږي، څېړونکی د موضـوع د انتخاب وروسـته اړوندې موضوع ته په کتو په کتابتون کې باوري او معتمد کتابونه، ژباړې، علمي مجلې، او د کتابتون اړوند نور مواد پلټي او مواد راټولوي، څو په نوښت او ابتکار او يا د نورو څېړنو په تاييد خپله څېړنه بشپړه کړي.

### د کتابتوني مقالې جوړښت

په کتابتوني مقاله کې د لاندې عناصرو شتون اړين او لازمي دی:

- د مقالې عنوان ( Title )
- د ليکوال نوم ( Author Name )
- د ليکوال پته ( Author Address )
- د مقالې لنډيز ( Abstract )
- کليدي کلمې( Keywords )
- سريزه/ پيژندگلوي ( Introduction )
- د مقالې موخې (Objectives)
- کړنلاره او کارتوکي ( Methods & Materials )
- د مقالې اصلي متن يا منځپانگه (Text Body )
- پايله ( Result)
- وړانديزونه ( Recommendations)
- اخځليکونه (References )

### ۲- د عملي يا ساحوي مقالې ليکنې لارښود

- ساحوي څېړنه له هغه څېړنې څخه عبارت ده، چې په ساحه کې د سروې، مشاهدې، مرکې، پوښتنلیکونو له لارې سرته رسېږي او د ساحوي مقالې جوړښت په لاندې ډول دی.

**د ساحوي مقالې جوړښت**

په ساحوي مقاله کې د لاندې عناصرو شتون اړین دي:

- د مقالې عنوان (Title )
- د لیکوال نوم ( Author Name )
- د لیکوال پته ( Author Address )
- د مقالې لنډیز ( Abstract )
- کلیدي کلمې( Keywords )
- سریزه/ پیژندګلوي ( Introduction )
- د مقالې موخې (Objectives)
- کړنلاره او کارتوکي ( Methods & Materials )
- د مقالې اصلي متن یا منځپانګه (Text Body )
- پایله ( Result) لیکنې تګلاره
- د مناقشه (Discussion) لیکنې تګلاره
- نتیجه ګیري (Conclusion )
- وړاندیزونه (Recommendations )
- مننلیک (Acknowledgment )
- اخځلیکونه (References )

## د کتابتوني او ساحوي څېړنې د عناصرو تشریح او د لیکنې تګلاره یې

### ۱- د مقالې عنوان (Title)

د مقالې موضـوع به نوې او د وخت د غوښـتنو مطابق وي، له دې وړاندې به په نورو نړیوالو او داخلي ژورنالونو او مجلو کې نه وي خپره شــوي, د علمي مقالې عنوان باید په بشـــپړه توګه معنا لرونکی او د متن سره مطابقت ولري او د پاڼې په منځ کې ولیکل شي، د عنوان فونټ به یې(۱۴) (Bold) وي او د کلمو شمېر به یې له ( ۱۵) نه زیاتېږي

### ۲- د څېړونکي/څېړونکو پېژندنه

د مقالې لیکونکي/ لیکونکو علمي رتبه، بشپړ نوم، تخلص، پوهنتون، پوهنځی، څانګه او ایمېل پته دې د پاڼې سر ښي اړخ ته ولیکل شي. د لیک اندازه به یې (۱۱) وي.

**د لیکنې تګلاره یې**

د لیکونکي یا لیکونکو د نوم په لاندې کرښه کې، د هغې مؤسسې نوم راځي چې لیکوال یا لیکوالان په هغې کې په کار بوخت دي. که چېرې یوه څېړنه د دوو یا څو کسانو پهواسطه ترسره شوې وي او هغوی ټول په یوه پوهنتون یا مؤسسه پورې تړاو ولري، د مؤسسې نوم یو ځل او بیا ورپسې د لیکونکي نوم ذکر کېږي؛ خو که هر یو له لیکونکو په بېلابېلو سازمانونو پورې تړاو ولري، باید

د هر يوه د نوم په ليکلو پسې متصل د اړوند سازمان نوم وليکل شي. د ليکوالانو د نومونو د ليکلو ترتيب داسې دی چې په څېړنيز کار کې د ګډون کولو په تناسب يو په بل پسې بايد وليکل شي.

**۳- د مقالې لنډيز** (Abstract)

په ملي ژبه د لنډيز د کلمو شمېر دې له (۲۰۰- ۲۵۰) پورې وي، د ليکو ترمنځ فاصله دې يو (۱/۰) وي، د لنډيز عنوان فونټ دې (۱۲) (Bold) وي.

**د لنډيز ليکنې تګلاره**

په ملي ژبه د څېړنې په لنډيز کې د يوه پاراګراف به بڼه د څېړنې مهمې موضوعګانې، چې د څېړونکي د تشريح او وضاحت پرته د هغه اصلي اندونو ته اشاره شوې وي، په ماضي کلمو به ليکل کېږي. په څېړنه کې د ټولې څېړنې لنډيز اړين دی؛ ځکه چې د همدې لنډيز د مطالعې پر اساس د ټولې څېړنې غوره والی څرګندېږي او لوستونکي دې ته اړ کوي، چې ياده څېړنه تر پايه ولولي. د يادونې وړ ده چې د لنډيز متن د ټولې مقالې د بشپړ کېدو څخه وروسته چمتو کېږي.

۴- **کليدي کلمې**( Key words)

د مقالې د لنډيز په وروستۍ کرښه کې د کليدي کلمو راوړل اړين دي.

**د کليدي کلمو** (Key words) **د ليکنې تګلاره**

کليدي کلمې (Key words) له لنډيز وروسته په لاندې معيارونو ليکل کېږي:

۱- کليدي کلمې به د څېړنې محتوا سره نږدې اړيکې لري.

۲- په کليدي کلمو کې به منلي او معياري اصطلاحات کارول کېږي.

۳- د کليدي کلمو شمېره به (۵- ۷) پورې وي.

۴- کليدي کلمې به د الفبا تورو په ترتيب ليکل کېږي

**۵- د مقالې سريزه (Introduction)**

سريزه د څېړنې اســاسي او اړينه برخه ده، ډېری لوســتونکي په سريزه کې د څېړنې اهميت او غوره والی لټوي؛ ځکه چې څېړونکی په سريزه کې د موضوع پر ارزښت او اهميت خبرې کوي.

**د سريزې**(Introduction) **ليکنې تګلاره**

په سريزه کې د لاندې عناصرو شتون اړين دی:

أ- سريزه به په بســم الله الرحمن الرحيم او هم د الله تعالی په حمد او ثنا سره پيل شي؛ خو په خطبه کې دې داســې الفاظ وکارول شي، چې د څېړنې موضوع ته پکې اشاره شوې وي.

ب- له خطبې وروسته د څېړنې د اړتيا او د موضوع وضاحت وروسته دې لاندې عناوين وڅېړل شي:

- څېړنيزه ستونزه(اختياري)
- د څېړنې موخې(اصلي، فرعي)(لازمي)
- پخوانيو ليکنو ته کتنه(اختياري)
- د څېړنې اهميت(لازمي)

- د څېړنې مواد او تگلاره(لازمي)

٦- **د مقالې څېړنې موخې** (Objectives)

اهداف يا موخې له هغه څه عبارت دي، چې څېړونکی بايد د څېړنې په اوږدو کې ځان ور ورسوي، هغه که کلي اهداف وي او که فرعي.

**په مقاله کې د موخې ليکنې تگلاره**

د څېړنو په موخو کې بايد (SMART) ته بشپړه پاملرنه وشي، يعنې:

١- Specific: موخې بايد مشخصې وي.

٢- Measurable: موخې بايد د اندازه گېرۍ وړ وي.

٣- Achievable: موخې بايد د لاس رسي وړ وي.

۴- Realistic: موخې بايد په واقعيت ولاړې او رېښتيني وي.

۵- Time able: په موخو کې بايد وخت په پام کې نيول شوی وي.

په ټوله کې موخې په دوه ډوله دي: ١- اساسي موخې.٢- فرعي موخې.

**١- اساسي موخې**

په څېړنه کې کلي موخې څېړونکي په يوه داسې جمله کې رانغاړي، چې په څرگندو الفاظو په لنډه توگه د لوستونکو لپاره د فهم او ادراک وړ وي.

**٢- فرعي موخې**

د څېړنې د کلي موخو د وېش او ماتوالي پراســاس کوچنۍ او جزيي موخې په لاس راځي، له همدې امله جزيي موخې کلي موخو ته گام پرگام د رسېدو لاره ده.

**٧- د مقالې د څېړنې اهميت او د ليکنې تگلاره يې**

په هره څېړنه کې د څېړنې اهميت او اړتيا په گوته کول اړين گام دی، چې په ټوله کې بايد د څېړنې په اهميت ليکنه کې لاندې پوښتنې ځواب شي:

١- په ترسره شويو څېړنو کې څه نيمگړتيا وه، چې ته يې هم د يادې موضوع څېړنې ته وهڅولې؟

٢- د څېړنې په اهميت کې بايد څرگنده شي، چې ولې زما څېړنه مهمه ده؟

٣- په ټولنه کې کوم ډول او څه ډول لوستونکو سره مرسته کولای شي؟

۴- د څېړنې د بشپړولو وروسته به په ټولنه کې څه ډول مثبت تغييرات راولي؟

کېدای شي د څېړنېزې موضــوع په تړاو زياتې څېړنې شــتون ولري؛ خو شــونې ده، چې ترسره شــوې څېړنې به يوشــمېر نيمگړتياوې هم لري؛ نو د خپلې څېړنېزې موضوع د غوره کولو په پار دې لوستونکو ته اهميت جوت او څرگند کړي او دا دې په اثبات ورسوي، چې زما څېړنې ته په ټولنه کې څومره اړتيا وه او په ټولنه کې له کوم ډول کسانو سره مرسته کولای شي او هم په ټولنه کې به دا ډول مثبت تغييرات هم راولي.

٨- **د مقالې څېړنې تگلاره او توکي**

څېړونکی بايد د خپلې څېړنې او ليکنې روش او تگلاره څرگنده کړي، څېړونکی بايد (د څېړنې منهج او تگلاره) ترعنوان لاندې د خپلې څېړنې ډول څرگند کړي، يعنې څېړنه يې کتابتوني ده، که ساحوي او که لابراتواري او نور... همدا ډول څېړونکي

باید له هغه مېتود یادونه وکړي، کوم چې د څېړنې په اوږدو کې ترې ګټه اخلي، یعنې: د څېړنې مېتود یې تاریخي دی، که د سروې، تجربوي مېتود دی، که استدلالي، که استقرائي او که استردادي مېتود او نور... په دې معنا چې څېړونکی باید خپلو لوستونکو ته خپل عمومي او ځانګړې منهجونه یا مېتودونه روښانه کړي.

همدا ډول څېړونکی باید څرګنده کړي، چې څه ډول معلومات راټولوي، یعنې د پوښتنو پراساس که د مرکې او که د مشاهدې او نورو... پراساس. او هم باید دا څرګنده کړي، چې لومړی له کوم ډول سرچینو څخه ګټه اخلي او وروسته له کوم ډول.

د څېړنې په منهج او تګلاره کې دې د هغه تفسیر یادونه هم وکړي، چې د څېړنې په اوږدو کې د قرآني آیتونو تفسیر او ژباړه ترې کوي.

**یادونه:** د سریزې وړاندې او د سریزې شامل عنوانونو د فونټ اندازه دې (۱۲) Bold) وي.

**۹- د مقالې اصلي متن یا منځپانګه** (Text Body)

د مقالې د منځپانګې د لیکنې پرمهال دې لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

- د مطالبو په لیکنه کې دې له امانتدارۍ څخه کار واخېستل شي، یعنې هر مطلب دې خپل اصلي ماخذ او لیکوال ته منسوب شي او د همغه ماخذ اړوند جلد او صفحه، بلکې د ماخذ لیکنې ټولې ځانګړنې دې ولیکل شي.
- د قرآن کریم آیتونو او نبوي حدیثو په لیکنه او ژباړه کې دې دقیق اوسي، د قرآني آیتونو په لیکنه کې دې په حفظ تکیه نه کېږي؛ بلکې له قرآن کریم څخه دې ولیکل شي او قرآني آیتونه دې په خنجري لیندیو ﴿ ﴾ کې ونېول شي.
- په نبوي حدیثو کې دې هڅه وشي، چې حدیث لومړی په صحیحینو(صحیح البخاري، صحیح المسلم) کې ولټول شي، که په صحیحینو کې پیدا نه شي؛ نو بیا دې په نورو سننو(سنن ترمذي، سنن ابوداود، سنن ابن ماجه، سنن نسایي) کې ولټول شي او هم دې له صحیحینو پرته نور احادیث بشپړ تخریج شي.
- په مورنۍ ژبه کې دې د بهرنیو کلمو له کارونې ډډه وشي او که د بهرنیو کلمو کارونه اړینه وه؛ نو په لیندیو کې دې د مورنۍ ژبې معنا هم ولیکل شي.
- څېړونکي دې هڅه وکړي، چې علمي مقاله زیاته اوږده نه کړي، کله چې د څېړنیزې ستونزې په حل کې د موخې معلومات ولیکل شي بسنه کوي، له همدې امله د ټولې مقالې د کلمو شمېر به له (۵۰۰۰- ۶۰۰۰) نه زیاتېږي.
- مطالب دې په ساده او روان نثر په سمه بڼه ولیکل شي، د پښتو ژبې یاګانې او لیکنښې دې پکې په بشپړه توګه مراعات شي، په څېړنه کې دې املاء او انشاء ته بشپړه پاملرنه وشي او هم دې ټول ژبني قواعد او ادبیات په نظر کې ونیول شي.
- په پښتو ژبه د مقالې اصلي متن فونټ به(Bahij Zar) وي او د دري ژبې فونټ به (Bahij Zar)، وي، همدا ډول په متن کې دې د یوې ژبې لپاره له یوه فونټ څخه ګټه واخېستل شي، چې د لیک اندازه به یې(۱۲) وي، د عربي متن د لیک ډول دې(Traditional Arabic) وي، چې د لیک اندازه به یې(۱۳) بولډ وي، د انګلیسي متن د لیک بڼه دې (Times New Roman) وي، چې د لیک اندازه به یې(۱۲) وي .
- د متن په اوږدو کې د عنوانونو فونټ به (۱۲) Bold) وي، د عمومي لیکنې(متن) فونټ به ۱۲ وي.
- د جملو ترمنځ فاصله دې (۱/۱۵) سانتۍ وي.
- د هر پاراګراف پیل دې له نوي لاین یا کرښې څخه وشي، لومړی کرښه یې باید یو (indent) مخکې لاړه شي او یا دې له مخکې پاراګراف څخه یو انټر(Enter) لاندې نوی پاراګراف پیل شي.

- په مقاله کې باید تصویرونه، ګرافونه، جدولونه او شکلونه روښانه او شمېره لرونکې وي او که له انټرنیټ څخه اخېستل شوې وي؛ نو باید د سایټ بشپړه پته ولري.
- - کارول شـــوي منابع دې په متن کې د (APA) تګلارې مطابق ثبت شي، او هم په پای کې دې د منابعو لیکلړ د الفبا تورو په ترتیب د (APA Style) مطابق ترتیب شي.

## ۱۰- د مقالې موندنې

د منځپانګې له بشپړتیا وروسته دې د څېړنې پایله(Result)، مناقشه (discussion) او نتیجه ګیري (Conclusion) ولیکل شي او د عنوانونو اندازه دې (۱۲) بولډ وي.

### أ- پایله ( Result) لیکنې تګلاره

څېړونکی دې د څېړنې په پایله کې د خپلو تجربو عمومي انځور وړاندې کړي.

د څېړنې په نتایجو کې باید د څېړنې پوښـــتنو او فرضـــیاتو ته ځواب وویل شي؛ پرڅېړونکي لازم دي، چې په نتیجو کې د فرضیاتو او ستونزو د تشریح لپاره کافي دلایل ذکر کړي.

د څېړنې نتایج د څېړنې په اوږدو کې د څېړونکي د موندنو یو لنډیز دی، له همدې امله دې په نتایجو کې له زیات تفصیل او تشریح پرته په لنډو، څرګندو او مفهوم لرونکو الفاظو ولیکل شي؛ مغلقې کلمې او جملې باید په پایله کې ځای پرځای نه شي.

د څېړنې نتایج د اصلي متن له بشپړلولو وروسته لیکل کېږي.

هره نتیجه باید د پاراګراف په بڼه ولیکل شي او هم به شمېره لرونکې وي؛ ځکه هره پایله یوه ځانګړې لاسته راوړنه ده.

په پایله کې دې داسې نوې ټکي نه لیکل کېږي، چې په منځپانګه کې پرې بحث نه وي شوی.

په پایله کې به د څېړنې لنډیز Abstract نه لیکل کېږي، یعنې د دواړو ترمنځ به توپیر شتون لري.

### ب- د مناقشه (Discussion) لیکنې تګلاره

د څېړنې د مناقشې په برخه کې د موضـوع اړوند ترلاسـه شـوې پایلې تفسـیر او تعبیرېږي، موندنې او د موجوده شـواهدو مناقشه کېږي او په دې برخه کې لاندې عمده ټکي د مناقشې لاندې نیول کېږي:

۱- د څېړنې موضوع ته په کتو په لنډ ډول د څېړنې اصلي نتایج ذکر کېږي.

۲- د څېړنې موخو ته په کتو ترلاسه شوې پایلې په دقیق ډول تفسیر او تعبیرېږي.

۳- په تېرو علمي او څېړنیزو اثارو کې د ترلاسه شویو نتایجو او موجوده شواهدو ترمنځ پرتلنه کېږي.

۴- په علمي او څېړنیزو اثارو کې د ترلاســه شــویو پایلو او د موجوده موندنو ترمنځ څه ډول توپیر شــتون لري او د دواړو توپیرونو او ورته والو ترمنځ منطقي تفسیر او تعبیر کېږي.

۵- د څېړنیز کار د قوت او کمزورتیا ټکو بیانول، د څېړنې په اوږدو کې محدودیتونو، ســتونزو او تېروتنو یادونه او هم یې د څېړنو په پایلو د ممکنه اغېزو یادونه.

٦- د څېړنې د ترلاسه شویو پایلو په نظر کې نیولو سره د راتلونکو څېړنو لپاره وړاندیزونه او فرضیې وړاندې کول.

### ج- نتیجه ګیري (Conclusion) لیکنې تګلاره

نتیجه ګیري له څېړنې څخه د ترلاسه شویو نتایجو په استناد او له نتایجو څخه په تعبیر سرته رسېږي او په دې برخه کې د څېړنیزې ستونزې لنډ ځواب لیکل کېږي.

۱۱- **وړاندیزونه** (Recommendations ): د څېړنې وړاندیزونه باید د څېړنې نتایجو، مناقشـــه او نتیجه ګیرۍ سره اړیکه ولري او له هغو یې باید الهام اخیستی وي او معمولاً په دوو صورتونو کې مطرح کېږي:
۱- تطبیقي وړاندیزونه. ۲- څېړنیز وړاندیزونه.

۱۲ - **مننلیک** (Acknowledgment): په دغه برخه کې د هغو ادارو یا اشـخاصـو څخه مننه کېږي چې د څېړونکي سره یې د دغې څېړنې په ترڅ کې مرستې یا همکارۍ ترسره کړېدي.

۱۳- Abstract

په انګیسي ژبه د لنډیز Font دې (Times New Roman) وي، چې د لیک Size دې (۱۲) وي، د لیکو ترمنځ فاصله دې (۰. ۱) وي او د کلمو شـمېر دې له ( ۲۰۰- ۲۵۰) پورې وي. د Abstract وروسـته دې کلیدي کلمې (Key Words ) هم په انګلیسي ژبه ولیکل شي، چې د کلمو شـمېر به یې له (۵- ۷) پورې وي. د Abstract سر ته دې د مقالې لیکوونکي بشـپړ نوم، علمي رتبه، پوهنځی، څانګه، ګرځنده شمېره، برښنالیک، د تقریظ ورکوونکي بشپړ نوم، د مقالې عنوان هم په انګلیسي ژبه ولیکل شي.

۱۴- **مصادر اومراجع** (References)

د مقالې په پای کې به د منابعو فهرست د الفبا تورو په ترتیب د لایحې مطابق په (APA Style) ترتیب شي او لږ ترلږه باید له اتو (۸) مأخذونو څخه ګټه واخېستل شي او هڅه دې وشي چې نوې او اصلي رېفرېنسونه وکارول شي.

**د لارښود مصادر او مراجع**


۱. أبو سلیمان، عبدالوهاب ابراهیم.(۱۹۸٦م). *کتابة البحث العلمي ومصادر الدراسات الاسلامیة*(ط.۲). جدة: دارالشروق.
۲. التمیمي، محمد بن خلیفة بن علي.(۱۴۲۳هـ .ق). مقدمات في علم مقالات الفرق(ط. ۱). الکویټ: غراس.
۳. رحیم زی، حسام الدین.(۱۴۰۲). د علمي څېړنو تګلاره(د پوهنوال علمي رتبې تألیفي اثر). خوست: رحیمي خپرندویه ټولنه.
۴. شلبي أحمد.(۱۹۹۷م).*کیف تکتب بحثا أو رسالة*(ط.٦). القاهره: مکتبة النهضة المصریة.
۵. المرعشلي، یوسف.(۱۴۲۴هـ ).اصول کتابة البحث العلمي وتحقیق المخطوطات.(ط.۱).بیروت: دارالمعرفة.
٦. وزارت تحصـیلات عالي، ریاسـت تحقیق، تألیف وترجمه (۱۳۹۹هـــ. ل). رهنمود تألیف و ترجمه کتاب های درسـی و ممد درسی و نګارش رسالۀ علمی- تحقیقی اعضای کادر علمی مؤسسات تحصیلات عالی ملکی.(ط.۱). کابل: مطبعه ریاست نشرات وزارت تحصیلات عالی.
7. Writing a scientific Research Article. www.Columbia.edu, Retrieved.8-7. Edited.


په پورته ډول د شیخ زاید پوهنتون د علمي – څېړنیز ژورنال د ټولنیزو علومو د برخې اړوند د کتابتوني او ساحوي مقالو د لیکنې لارښود دټاکل شوي پلاوي له لوري چمتو او صحت لري.

درنښت

پوهنوال زرولي صدیقي | پوهنوال محمد شفیق مندوزی | پوهندوی حسام الدین رحیم زی